# د کووېډ – ۱۹ د آزموینې او تشخیص مرکزونه او د نړیوال بشري قانون پر بنسټ یې خوندیتوب

خمېنا ګالوېز (Ximena Galvez)، د آسیا او اروپا سیمې د حقوقي چارو او پالیسۍ د څانګې مسؤول



*د کووېډ – ۱۹ د آزموینې او تشخیص مرکز، کارېن ایالت، برما – کارېن نیوز (KNU)*

په جنګ ځپلو هېوادونو کې روغتیایي سیستمونه اوسمهال د وسلوال جنګ یا تاوتریخوالي او د کووېډ – ۱۹ وباء له دوه ګونو اغېزو سره مخ دي. د دغه بحران پر مهال د دوی د اړینو فعالیتونو سره سره، د روغتیایي پاملرنې پر مرکزونو لا هم بریدونه ترسره کیږي. د رواني وباء د له منځه وړلو لپاره د دولت د مخنیوونکو اقداماتو سربېره، ډېرو نادولتي وسلوالو ډلو (ANSAs) د مخالفینو تر کنترول لاندې او لیرې پرتو سیمو کې د کووېډ – ۱۹ په تړاو یو شمېر اقدامات ترسره کړي دي. په ځانګړي ډول، نادولتي وسلوالو ډلو په لیرې پرتو سیمو کې د کووېډ – ۱۹ د آزموینې او تشخیص مرکزونه او همدارنګه د قرنطین مرکزونه تاسیس کړي دي، چې ډېری مهال د هغوي په واک کې وي او د روغتیایي پاملرنې یا کووېډ – ۱۹ د آزموینې او تشخیص رسمي اسانتیاوې نلري.

> د کووېډ – ۱۹ د آزموینې او تشخیص مرکزونه: دغه واحدونه د کووېډ – ۱۹ د خپرېدو د مخنیوي لپاره جوړ شوي دي، چې د تودوخې درجه معاینه کوي، د کووېډ – ۱۹ نښې معلوموي، د کووېډ – ۱۹ طبي معاینې کوي، د شخصي خوندیتوب وسایل وېشي، د آزموینې او تشخیص د ریکارډ ساتلو په موخه هؤیت معلوموي، د کتل شوو افرادو (منفي یا مثبت) او د مثبتې نتیجې په صورت کې د هغو خلکو چې ورسره په اړیکه کې پاتې شوي وي سوابق ساتي، ناروغان د قرنطین مرکزونو ته راجع کوي یا یې د نور کلینیکي کارونو لپاره د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي خبروي، له ناروغۍ وروسته د مخنیوي خبرتیاوې، لکه د واحد په دروازو او د واحد شاوخوا ستراتیژیکو موقعیتونو کې نښې او د روغتیا اړوند داسې نورې دندې پر مخ بیایي.

پدې وروستیو کې جنوبي غرب په کولمبیا، برما او فلیپین کې د کووېډ – ۱۹ د آزموینې او تشخیص پر مرکزونو تازه بریدونه ثبت کړي دي؛ چې دا ډول بریدونو د روغتیایي پاملرنې پر خوندیتوب، د دغې ناروغۍ پر ختمولو او په عمومي توګه د دغه بحران پر وړاندې اقدامات په منفي ډول اغېزمنوي. همدارنګه دا ډول حملاتو ډیرې پوښتنې راپورته کړي چې **آیا د کووېډ – ۱۹ د آزموینې او تشخیص جوړ شوي مرکزونه د داسې طبي واحدونو په توګه ګڼل کېدلای شي چې د نړیوال بشري قانون مطابق د وسلوال جنګ پر مهال له ځانګړي خوندیتوب څخه برخمن دي**. د دې مقالې موخه دا ده چې دغه پوښتنه ځواب کړي او تر **هغې کچې یې تحلیل کړي تر کوم پورې چې د وسلوالې جګړې د خواوو له لورې د آزموینې او تشخیص د دغو مرکزونو د ساتنې پخاطر شتون، که هغه د روغتیا او/ یا پوځی اړوندو چارو په تړاو وی، هغه ځانګړی خوندیتوب اغېزمنوي چې د کووېډ – ۱۹ د آزموینې او تشخیص مرکزونه ورڅخه د نړیوال بشري پر بنسټ برخمن دي. د دغې مقالې عمومي موخه د وسلوالو جنګي ډلو د کړنو په اړه د معلومات وړاندې کول او د کووېډ – ۱۹ په تړاو د اغېزمنو اقداماتو باوري کول دي.**

د دغې مقالې د موخو لپاره، د 'روغتیایي پاملرنې مرکزونو' پر ځای د 'طبي واحدونو' اصطلاح کارول شوې ده څکه چې په نړیوال بشري قانون کې د 'طبي واحدونو' اصطلاح تعریف شوی او پکې د دوی ځانګړي خوندیتوب بیان شوی دی.

## د نادولتي وسلوالو ډلو لخوا د کووېډ – ۱۹ د آزموینې او تشخیص جوړ شوی مرکزونه

د هغو جدي اقداماتو له جملې چې نادولتي وسلوالو ډلو د کووېډ – ۱۹ د خپراوي د کنترول لپاره ترسره کړي دي، د قرنطین موقت پناه ځایونو جوړول او د کووېډ – ۱۹ د آزموینې او تشخیص د مرکزونه تاسیسول دي. د نادولتي وسلوالو ډلو له لورې جوړ شوي

د کووېډ – ۱۹ د آزمويني او تشخيص مرکزونه د افرادو د تودوخي درجه معاينه کوي، د شخصي خونديتوب وسايل وېشي، د آزمويني او تشخيص د ريکارډ ساتلو په موخه هوېت معلوموي، له هېواده بهر يا د هېواد له نورو برخو څخه د راغلو خلکو نومونه او موقعيتونه ثبتوي او د قرنطين د مقرراتو په اړه لارښووني ورکوي. پر دې سربېره، د آزمويني او تشخيص ځيني مرکزونه د کووېډ – ۱۹ د نښو درلودونکي خلک، دولتي يا د نادولتي وسلوالو ډلو روغتونونو ته راجع کوي. د کووېډ – ۱۹ د آزمويني او تشخيص ډېری دغه مرکزونه د روغتيايي پاملرني کارکوونکي لري چې د دولتي امنيتي ځواکونو يا د نادولتي وسلوالو ډلو د غړو له لوري يې ساتنه کېږي. له بده مرغه، په جنګ ځپلو هېوادونو کې د روغتيايي پاملرني پر وړاندې تاوتريخوالی زيات شوی دی او په ځينو پېښو کې يې د کووېډ – ۱۹ د آزمويني او تشخيص مرکزونه اغېزمن کړي دي.

## د نړيوالی بشرپالنی د قانون پر اساس د خونديتوب حقوقي بنسټ

### د طبي واحدونو تعريفول

د طبي واحدونو د اصطلاح تعريف د ۱۹۴۹ کال د جنيوا د کنوانسيون او د دغه کنوانسيون د ۱۹۸۷ کال په ضميمه او د ۱۹۷۷ کال په لومړي اضافي پروتوکول کې موجود دی، چې پر نړيوالو وسلوالو جنګونو تمرکز لری. د ۱۹۷۷ کال په دويم اضافي پروتوکول کې د طبي واحدونو د يوه تعريف په نشتون کې، چې پر غير نړيوالو وسلوالو جنګونو (NIACs) تمرکز لری، د دوديز نړيوال بشرپالنې قانون مطابق، په لومړي اضافي پروتوکول کې موجود تعريف پر غير نړيوالو وسلوالو جنګونو په مساوي ډول د تطبيق وړ دی.

د نړيوال بشري قانون له مخې، طبي واحدونه هغه تاسيسات يا اضافی واحدونه دي چې **دايمي يا مؤقت** وي، لکه روغتونونه، د وينې د ورکړې او انتقال مرکزونه، طبي ذخيرې او طبي او د درملو پلورنځي، او **په بشپړ ډول د طبي موخو** لکه د ناروغانو يا ټپيانو د لومړی مرستې په ګډون د راټولولو، ترانسپورت، تشخيص او درملنې لپاره ځانګړي شوي وي. په اړونده وخت کې د طبي واحد استعمال/فعاليت دا څرګندوی چې آيا يو مرکز د يو طبي واحد په توګه وګڼل شی او دا بايد هغو لاملونو ته له ليدلو پرته وي چې دا ورته جوړ شوی دی. د بېلګې په توګه، د کورنی پلان جوړوني ګرځنده مرکزونه چې طبي درملنه نه وړاندې کوي، تر هغه چې کړنې يې لا هم د روغتيا اړوند وي، تر دغې خونديتوب لاندې راځي. همد راز، طبي واحدونه، **له دې پرته چې ملکي، پوځي يا د نادولتي وسلوالو ډلو له لورې تاسيس شوي وي**، د دغې اصطلاح تر پوښښ لاندې راځی. په همدې ډول، دا په پام کې نيول اړين دي چې هغه تاسيسات چې قربانيانو ته، لکه ناروغانو او ټپيانو لپاره مستقيمه طبی پاملرنه نه چمتو کوي، خو **د ناروغيو د مخنيوي پوسيله د قربانيانو د شمېر کمولو هڅه کوي**، هم طبي واحدونه ګڼل کيږي. **د نړيوالی بشرپالنی تر قانون لاندې، د کووېډ – ۱۹ د آزمويني او تشخيص مرکزونه د طبي واحدونو له تعريف سره مطابقت لري ځکه چې د هغوي کړنې په بشپړ ډول طبي دي او پدې توګه يې خونديتوب تنظيم شوی دی.**

### د طبي واحدونو د درناوي او خونديتوب مکلفيت

د نړيوال بشري قانون مطابق، په هر ډول شرايطو کې د طبي موخو لپاره د ځانګړو شوو طبي واحدونو درناوی او خونديتوب بايد تضمين شی او هېڅکله وربانديې بريد ترسره نشي. د درناوي مکلفيت پدې معنی دی چې پر طبي واحدونو بايد بريد ترسره نه شي او هيڅ ډول زيانمن نشي. همدا راز د هغوي په کارونو کې بايد لاسوهنه ونه شي، د بېلګې په ډول، د روغتيايي پاملرني يا د ناروغيو مخنيوونکو وسايلو او خدماتو ته د لاسرسي پر وړاندې خنډ، محروميت او محدوديت رامنځته نشي. د خونديتوب مکلفيت پدې معنی دی چې په اړينو ځايونو کې د طبي واحدونو د کار د تسهيل لپاره بايد ګامونه پورته شي او د اړتيا پر مهال ورسره مرسته وشي، لکه د ناروغی د مخنيوي د وسايلو د انتقال په لاره کې اسانتيا چمتو شي. طبي واحدونه بايد له بريدونو څخه د خونديتوب لپاره د پوځي موخو په توګه استعمال نشي او له هغو پوځي اهدافو څخه په کافي واټن کې موقعيت ولري، چې د قانون له مخې وربانديې بريد کېدلای شي. دا همدا راز له وسلوالو جنګي ډلو څخه غواړي څو اطمينان ترلاسه کړي چې د نورو له لوري د دغو واحدونو درناوی کيږي او بايد د ناسم چلند يا په خطر کې اچولو څخه د مخنيوي لپاره يې ممکن اقدامات ترسره شي.

### په طبي واحدونو کې د وسلوال پرسونل (عملي) شتون

د دې حقيقت منل مهم دی چې د نړيوال بشري قانون پر بنسټ، په طبي واحدونو کې کارکوونکي عمله ښايي د ځانی دفاع يا د هغو ټپيانو، ناروغانو او ملکي وګړو د دفاع لپاره سپکي وسلې ولري، چې د طبي موخو، لکه طبي آزمويني او تشخيص لپاره، د هغوي د مسؤوليت په ساحه کې وي. سپکي انفرادي وسلې هغو وسلو ته ويل کيږي چې په عمومي ډول د يوه فرد له لوري انتقاليږي او کارول کيږي، لکه تمانچې، خو يواځې په دې پورې محدودې ندي. ليکن، ماشينګنې او نورې درنې وسلې، چې يو فرد يې په آسانی نشي انتقالولی او د څو کسانو له لوري بايد استعمال شي، منع دي. په دې ډول، د ټپيانو، ناروغانو او ملکيانو د دفاع لپاره په طبي واحدونو کې په سپکو وسلو د سنبالي عملي شتون، د دغو واحدونو د خونديتوب د له منځه تللو سبب نه ګرځی. د دې ټکي په پام کې نيولو پرته چې آيا کارکوونکی د سپکو انفرادی وسلو د ګرځولو اجازه لری يا نه، په طبي واحدونو کې د هر ډول وسلوال کس شتون د دې خطر زياتوي چې دوی ممکن تر بريدونو لاندې راشي او په طبي واحدونو او شاوخوا سيمو کې د ملکي وګړو ژوند، درناوی او امنيت د خطر سره مخامخ کړی.

### په طبي واحدونو کې د مؤقتي يا دايمي طبي عملې په توګه د ګومارل شوو جنګياليو شتون

په طبي واحدونو کې عمله ښايي هغه جنګيالي وي چې په مؤقت ډول ګومارل شوي وي ترڅو د لنډې مودې لپاره يا د دايمي طبي عملې په توګه په بشپړ ډول طبي دندې ترسره کړي. ټوله طبي عمله له خونديتوب څخه برخمن دي او هغوي بايد محافظت شوي نښې (لکه سور صليب، سره مياشته يا سور کرېسټال) وښيي. سره له دې، که چېرې نښان پر کاليو نصب نه وي، دا په دې معنی نده چې طبي عمله/ کارکوونکي خونديتوب نلري ځکه چې نښه يواځې د هغوي پېژندل آسانه کوي خو د خونديتوب لپاره کوم الزامی بڼه نلری. د پوځي موخو لپاره د محافظت شوی نښې څخه ناوړه ګټه اخيستل منع دی. مرسته رسوونکې عمله يا په طبي واحدونو کې کار کوونکي کسان هغه مهال خپل خونديتوب له لاسه ورکوي کله چې هغوي له خپلو بشري چارو هاخوا دښمن ته زيان رسوونکي کړنې ترسره کړي، لکه له ځان څخه له دفاع هاخوا د دښمن د جنګياليو ځواکونو پر خلاف د زور په کارولو سره په جګړو کې ګډون وکړي. له دې امله هغوي ښايي تر بريدونو لاندې راشي. دغه چاره ښايي په نږدې سيمو کې طبي واحدونه هم په خطر کې واچوي. دا همدا راز د روغتيايي پاملرنې پر وړاندې کولو او ورته لاسرسي باندې منفي اغېزه لري ځکه چې دا به طبي واحدونو ته د خلکو د ورتګ لېوالتيا اغېزمنه کړي او د ويروس د خپرېدلو د مخنيوي لپاره ترسره شوي اقدامات به خپل اغېزمنتوب له لاسه ورکړي.

**پوځي ګټه:** هغه ګټه چې يو جنګي لوری يې تمه کوي، د يوه بريد په نتيجه کې ترلاسه کړی او بايد پوځي ماهيت ولري.

**پوځي چېک پواينتونه (پوستې):** د پوځ يا د قانون پلی کوونکو ځواکونو له لورې اداره کېدونکي د سړک موانع، چې د وسايطو بې اجازې حرکت مخه نيسی. د دې موخه د خلکو او موادو د حرکت څارنه او کنترول دی څو د تاوتريخوالي او بريد مخه ونيسي او يا څېړنه ترسره او مرتکبين وپېژني.

### له بريد څخه د خونديتوب احتمالی لاسه ورکول

طبي واحدونه په استثنايي ډول هغه مهال خپل خونديتوب له لاسه ورکوي کله چې له بشري چارو څخه پرته دښمن ته د زيان رسوونکو کړنو لپاره وکارول شي. په دې کې يواځې په جنګي فعاليتونو کې ګډون نه، بلکې هغو جنګياليو ته پناه ورکول هم راځي چې مؤقتي يا دايمي طبي چارې نه ترسره کوي. که چېرې طبي واحدونه له بشري چارو پرته، دښمن ته د زيان رسوونکو کړنو لپاره وکارول شي، ښايي خونديتوب يې يواځې له يو ځل خبرداری څخه وروسته ختم شي پدې شرط چې د ځای د تخليه کولو لپاره کافي وخت ورکړل شوی وی او هغه له پامه وغورځول شي. په دغو حالتونو کې، طبي واحدونه يواځې هغه مهال خونديتوب له لاسه ورکوي کله چې د يوې مودې لپاره پوځي هدف وګرځي. طبي واحدونه د هغوي د حيثيت له امله نه، بلکې د هغوي د کار له امله خونديتوب لري او هغوي اړ ندي چې هرومرو روغتيايي خدمات وړاندې کړي ترڅو د خونديتوب څخه برخمن شي. د بېلګې په ډول، يو روغتون چې د پوځي چونی په توګه استعماليږي، يو طبي واحد ندی، خو که چېرې يوه پوځي چونۍ په طبی وسايلو سمبال شی او ورڅخه د موقت روغتون په توګه کار واخيستل شی نو پدې صورت کې د ځانګړي خونديتوب څخه برخمن کيږی. د کووېډ – ۱۹ د آزموينې او تشخيص مرکزونه، تر هغه مهاله چې په بشپړ ډول يواځې د طبي موخو لپاره کارول کيږي، لکه طبي معاينې او د تودوخې د درجې معلومول، له خونديتوب څخه برخمن دي.

طبي واحدونه ښايي په داسې کړنه کې ښکېل شي چې دښمن ته زيان رسوونکي ښکاری، د بېلګې په ډول، کله چې يو طبي ګاډی خراب شی او د پوځي عملياتو مخه ډب کړی. په دغه ډول قضيو کې، تر هغه وخته چې طبي واحدونه خپل بشري ماموريت ترسره کوي، خونديتوب لري. د طبي واحدونو د بشري موخې په رڼا کې، د خونديتوب له لاسه ورکول بايد په محدوده بڼه تعبير شي. په ورته توګه، که چېرې د يوې کړنې په اړه شک موجود وي، تر هغو بايد دښمن ته زيان رسوونکې ونه ګڼل شي ترڅو چې ثابته نشی. د کووېډ – ۱۹ د آزموينې او تشخيص مرکزونه ښايي هڅيتونه معلوم او ثبت کړي، چې دغه کړنه ښايي دښمن ته زيان رسوونکې وګڼل شي، خو تر هغه وخته چې دغه چاره يواځې د طبي موخو لپاره ترسره کيږي، دښمن ته زيان رسوونکې بايد ونه ګڼل شي. دا بايد په پام کې ونيول شي، چې په يوه طبي واحد کې د سپکو وسلو شتون، چې له ټپيانو او ناروغانو څخه اخيستل شوي وي او مسؤلينو ته لا سپارل شوي نه وي، د دغه واحد د خونديتوب د له لاسه ورکولو سبب نه ګرځی. په همدې ډول، خونديتوب هغه مهال هم له لاسه نه ورکول کيږي کله چې د جنګي ډلو غړي په طبي واحد کې د طبي موخو لپاره موجود وي.

**دښمن ته زيان رسوونکی عمل:** له بشري چارو هاخوا د طبي واحدونو کارول څو د دښمن له پوځي عملياتو سره په مستقيم يا نامستقيم ډول مداخله وکړي، لکه د پوځي موخو لپاره د طبي واحدونو هر ډول کارول.

**ځانګړيتوب:** د کووېډ – ۱۹ د آزموينې او تشخيص مرکزونه بايد په نظری توګه د روغتيايي موخو لپاره ځانګړي شوي وي او په عمل کې د هرې هغې کړنې څخه ډډه وکړي چې د روغتيا اړوند نه وي.

د کووېډ – ۱۹ د آزموينې او تشخيص د مرکزونو له خونديتوب سره يوه بله پېچلتيا هغه مهال رامنځته کيږی کله چې هغوي د ناروغيو د مخنيوی سره سره په هم مهاله توګه د نظامی پوستې په توګه کار کوي. دا د کووېډ – ۱۹ د آزموينې او تشخيص مرکزونو د چارو په توپير کې ننګونې رامنځته کوي ځکه چې ښايي د چېک پواينټونو په څېر ښکاره شي يا ښايي د دوه ګوني ګټه اخيستنې وسيلې په توګه څرګند شي چې هم روغتيايي خدمات وړاندې کوي او هم د پوځي هدف لپار کارول کيږی. په دې توګه، د دوه ګوني ګټه اخيستنې وسيلې ويجاړول – چې د ملکي او پوځي دواړو موخو لپاره استعماليږي – ښايي هغه مهال قانوني وي چې په يو معين وخت کې د يوې پوځي موخې بڼه غوره کړی. **ولو که هغه مهال د کووېډ – ۱۹ د آزموينې او تشخيص مرکزونه د پوځي موخو لپاره کارول کيږي، ممکن پر وړاندې يې هر ډول**

**برید یا یې ویجاړول څرګنده پوځي ګټه ونلري. که چیرې د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص مرکزونو د چارو په اړه شک موجود وي، جنګي لوري باید داسي وګڼي چې هغوی لا هم ملکي اهداف دي چې د خوندیتوب څخه برخمن دي.** پر دې سربیره، که چیرې د دوه ګوني کاروني وسیلې د پوځي موخو لپاره کارول کیږي، پر هغوي هر ډول برید باید تضمین کړي چې له برید څخه د رامنځته کېدونکي مستقیمي پوځي ګټي په تناسب جانبی زیان ډېر ندي او دا چې ملکي وګړو ته د زیان د کمولو لپاره احتیاطي ګامونه پورته شي. پداسي حالاتو کې، که چیرې د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص مرکز د پوځي موخي لپاره هم وکارول شي، روغتیایي پاملرني ته د ملکي وګړو د لاسرسي په چمتو کولو کې د هغوي مهم رول او د ناروغیو د خپراوی د مخنیوونکي وسیله په توګه د دوی ونډه او همدارنګه د دغه ډول برید لنډمهاله او اوږدمهاله پایلي باید له برید وړاندې د تناسب ارزوني پر مهال په پام کې ونیول شي. تر هر ډول برید وړاندې، جنګي لوري باید تائید کړي چې د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص مرکزونه په حقیقت کې د پوځي موخو لپاره کارول کیږي او د خبرداریو په ګډون د زیان کمولو لپاره باید ټول احتیاطي تدابیر ونیول شي. د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص د یوه مرکز د ځانګړي فعالیت په اړه د شک په صورت کې، د هغې ملکي حیثیت ته باید لومړیتوب ورکړل شي او په پام کې ونیول شی. که چیرې څرګنده شي چې د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص مرکزونه د طبي موخو لپاره کارول کیږي، بریدونه باید وځنډول شي.

## سپارښتني

جنېوا غږ یو بېساری ماموریت لري ترڅو د نادولتي وسلوالو ډلو د ښکېلولو له لارې د ملکي وګړو پر وړاندې د هغوي له لوري د ترسره کېدونکو زیان رسوونکو کړنو مخه ونیسي. دا سازمان خپل مخنیوونکی (وقایوی) کار د بشري نورمونو په اړه له نادولتي وسلوالو ډلو سره د خبرو اترو له لارې ترسره کوي او پدې باور لري چې داسي ټولو ډلو ته باید په وسلواله جګړه کې د هغوي مسؤلیتونه ور په یاد شي. جنېوا غږ په ټوله نړۍ کې په وسلوالو جګړو کې د ملکي وګړو د حالت او پر طبي واحدونو د بریدونو د تازه طریقو په اړه، په ځانګړي ډول د کووېډ – ۱۹ اوسنی وباء پر مهال، اندېښنه لري. د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص مرکزونو پر وړاندې بریدونه پر ملکي وګړو او ناروغانو منفي او زیان رسوونکي اغېزه لري، چې ښایي د وباء په اوږدو کې او ورځخه وروسته هم دوام وکړي. جنېوا غږ د وسلوال جنګ لوریو ته سپارښتنه کوي چې:

**جانبی تلفات یا زیانونه**: دغه اصطلاح پر ملکي وګړو او ملکي زېربنا د ناوړه اغېزې د تعریف لپاره کارول کیږي، چې پر یو پوځي هدف باندې د برید له امله رامنځته کیږي.

- د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص مرکزونه په ځانګړي ډول د روغتیایي موخو لپاره او وکاروئ.
- د هر ډول برید څخه مخکې د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص مرکزونو ځانګړې کړني وارزوئ چې ښایي د هغوي دوامداره کړني اغېزمني کړي.
- که چیرې څرګنده شي چې د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص مرکزونه د طبي موخو لپاره کارول کیږي، بریدونه بند کړئ.
- په هغو موقعیتونو کې د خوندی زونونو د هوکړې په اړه فکر وکړي چیرې چې د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص مرکزونه جوړ شوي وي، کوم چې له پوځي عملیاتو څخه ډېر لیرې واقع دی یا بېطرفه زونونه، چیرې چې پوځي عملیات نه ترسره کیږي.
- د کووېډ – ۱۹ د آزمویني او تشخیص په مرکزونو کې د وسلې نه ګرځولو پالیسی د عملی کولو هڅه وکړئ کوم چې ممکن د هغو کسانو خوندیتوب زیات کړي چې د آزمویني او تشخیص او طبي درملني غوښتونکي وی او یا د روغتیایي پاملرني د عملي په توګه کار کوی، ولو که د نړیوالي بشرپالني د قانون پر بنسټ د داسې څه کولو مکلفیت شتون ونلري.

جنېوا غږ، د دغو سپارښتنو د عملي کولو لپاره له نادولتي وسلوالو ډلو سره د کار او ملاتړ لپاره چمتووالی لري او دوی هڅوی ترڅو د جېنوا غږ ***د وسلوالي جګړې پر مهال د روغتیایي پاملرني د خوندیتوب په تړاو ژمنلیک*** ومني. د دغې معیاري یو اړخیزې اعلامیې له لارې، نادولتي وسلوالي ډلې د نورو مثبتو او منفي مسؤلیتونو تر څنګ پر روغتیایي مرکزونو د برید، لاسوهني یا ویجاړولو څخه د ډډه کولو په تړاو هوکړه کوي. موږ د نورو هر ډول ځانګړو بشري موافقو یا یو اړخیزو اعلامیو څخه هر کلی کوو کوم چې د دې موضوع په اړه لا ډېر او جامع مسؤلیتونه په بر کې نیسي.